# د قبرونو دننه حالات

**08-May-2025**

هفته واره د سُنّتونو ډکه اجتماع کښې کیدونکے

د سُنّتونو ډک بیان

(For Islamic Brothers)



پۀ 8 مئي، کال 2025ء (بمطابق: 10 ذو القعده، کال 1446ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د قبرونو دننه حالات

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- افضل ترین شُکر
- د يو کفن کش (غَل)عبرتناک بیان
- د صِدِّيق او د عمر وسیله يـې پۀ کار راغله
- پۀ قبر کښې پۀ کار راتلونکي يو څو نور اعمال

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُالْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اِسلامي)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله — وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله — وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت وكړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

حضرت اَبُو فضَل قُومَسَاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير لوئي عاشقِ رسول او نيک انسان وو، يو ځل د خُراسان نه يو عاشقِ رسول د هغوئي خوا له راغلو او اوئې وئيل: اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زهٔ پهٔ مسجدِ نبوي شريف کښې ملاست ووم، پهٔ ما باندې کرم وشو، عرش ته تلونکي، د جنَّت سيل کوونکي، د رَبّ محبوب نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما له پهٔ خوب کښې تشريف راوړلو- د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارکو شونډو حرکت وکړو، د رحمت ګلونه ترينه راووريدل، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: چې کله تهٔ هَمَذَان (ښار) ته لاړ شې نو اَبُو فَضل قُومَسَاني ته زما سلام وايهٔ- ما عرض وکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! پهٔ هغوئي باندې د دې کَرم څهٔ وجه ده؟ اوئې فرمائيل: هغهٔ روزانه 100 کرته پهٔ ما باندې دُرُود لولي- (1)

اس جوابِ سلام کے صدقے! تاقیامت ہوں بے شمار سلام
میری بگڑی بنانے والے پر بھیج اے کردگار سلام
اس پناہِ گنہگاراں پر یہ سلام اور کروڑ بار سلام (2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1]… تاریخ الاسلام للذہبی، جلد:10، صفحہ:257، رقم:17516۔
[2]… ذوقِ نعت، صفحہ:170، 171 ملتقطاً۔

## د بيان اوريدلو نيتونه

پۀ **حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نيتونو دے۔ [1]

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پۀ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي۔ راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِيَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❁ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❁ پۀ اَدب به کښينم ❁ ښۀ پۀ توجُّه به بيان اورم ❁ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## قبر د وور نه ډکولے شي

صحابئ رسول حضرت حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: يو ځل مونږه د محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره پۀ يوه جنازه کښې شريک شو، د جنازې کولو نه پس چې کله مونږه قبر ته ورسيدو نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو طرفته کښيناستو او قبر ته يې بيا بيا کتل، بيا يې وفرمائيل: پۀ دې کښې مسلمان داسې زورلے شي چې د هغۀ پوښتې خپل ځايونه پريږدي او د غير مسلمه د پاره دا د دوزخ د وور نه ډکولے شي۔ [2]

## قبر هر يو کس زور کوي

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** زۀ، تاسو، مونږ ټول اخر فاني يو، مونږ به مرۀ کيږو، قبر ته کوزيدل دي۔ آه! قبر ډير ويروونکے دے، د تنهايي، وحشت او د ويرې کور دے، دلته هر خوا وحشتونه دي۔ که د دۀ نور مشکلات نۀ وي نو هم د قبر زور کول د ويرې د پاره کافي دي۔ حضرت ابو قاسِم سَعدي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي: که څوک نيک وي او که ګنهګار---!! د قبر د زور کولو نه څوک هم نجات نشي موندلے، البته! پۀ مسلمان او غير

1... بخارى، كتاب بدء الوحى، صفحه:65، حديث:1۔

2...؟؟؟؟۔

مسلمه کښې فرق دا دے چې غیر مسلمه خو به قبر مسلسل زور کوي خو مسلمان چې څنګه قبر ته ورسي نو زور یـې کړي بیا یـې پریږدي- نور لیکي : **د قبر زور کول دا دي چې د دي دواړه غاړې د یو بَل سره میلاؤ شي-** (1)

## د قبر د زوړولو نه ویریږئ---!!

اَللّٰہُ اَکۡبَرۡ! **خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** خومره د د عبرت او د نصیحت خبره ده- قبر هر یو زور کوي او د دې د زور کولو مطلب څۀ دے؟ د دۀ دواړه دیوالونه د یو بَل سره یو ځائے شي او مړے پـکښې پۀ مینځ کښې راګیر شي- که ستاسو سره داسې شوي وي چې ناڅاپه مو ګوته پۀ دروازه کښې انښتې وي، د دې خومره ډیر تـکلیف وي، که ډیر مضبوط انسان هم وي نو یو دم یـې د خُلې نه چغه ووځي، داسې ښکاري چې چا ترینه ګوته کټ کړې وي، دا صرف پۀ دروازه کښې د ګوتې د انښتو تـکلیف دے، بیا د دې نه اندازه ولګوئ! کله چې مونږه پۀ قبر کښې کیښودے شو، آه! لا اوس اوس به مو د مرګ تـکلیف تیر کړے وي ❁ د دُنیا د پریښودو ❁ د خپلوانو نه د جُدا کیدو غم به لا تازه وي ❁ داسې وحشت او تنهائي ❁ او ډیره زیاته تیارۀ به مو پۀ وړومبي ځل باندې لیدلې وي، پۀ دې خطرناک حالت کښې به ❁ ناڅاپه د قبر دیوالونه پۀ خوزیدو شي ❁ یو بَل ته به رانزدې کیدل شروع شي ❁ تر دې پورې چې دواړه دیوالونه به د یو بَل سره پیوست شي، هٰغه وخت چې به د دې پۀ مینځ کښې کوم مړے وي، اندازه ولګوئ چې د هغۀ د تـکلیفونو به څۀ حالت وي---؟ آه! د هډوکو د ماتیدو اوازونه به راځي او پوښتۍ به ماتې شي او پۀ یوه بله کښې به ننوځي-

| | |
|---|---|
| قبر روزانہ یہ کرتی ہے پکار | مجھ میں ہیں کیڑے مکوڑے بیشمار |
| میرے اندر تُو اکیلا آئے گا | ہاں مگر اعمال لیتا آئے گا |
| گھپ اندھیری قبر میں جب جائے گا | بے عمل! بے انتہا گھبرائے گا |

[1] ...شرح الصدور، باب ضمة القبر لکل احد، صفحه:83-

کر لے توبہ رب کی رحمت ہے بڑی | قبر میں ورنہ سزا ہوگی کڑی[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د شُکر عادت جوړ کړئ---!!

امام نَسفِي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: نیک مسلمان ته پۀ قبر کښې عذاب نۀ ورکولے کیږي خو قبر به هغۀ هم زور کوي، هغۀ به د دې تکلیف او ویره هم محسوسوي- د دې وجه دا ده چې هغۀ د الله پاک پۀ نعمتونو کښې اوسیدو خو پوره طور یې د هغې شُکر ادا نکړے شو-[2]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! معلومه شوه چې د قبر زور کول د ناشکرۍ نتیجه ده- دا رښتیا خبره ده چې مونږه د الله پاک د نعمتونو پۀ صحیح طریقه شُکر نشو ادا کولے- بیا هم مونږ له پکار دي چې پۀ ناسته پۀ ولاړه، پۀ ګرځیدو، بس د الله پاک شُکر ادا کوو- دلته یو عام دستور دے، خلق ډیر د مایوسۍ ښکار کیږي، شُکر ډیر کم ادا کوي- که وکتلے شي نو مونږه د سَر نه واخله تر د ښپو پورې پۀ نعمتونو کښې ډوب یو ❀ تاسو خو به د هئیر ټرانسپلانټ (***Hair transplant***) اشتهارونه لیدلي وي، خلق پۀ سر باندې د ویښتو لګولو د پاره پۀ زرګونو روپۍ لګوي، خپل سَر ته وګورئ! که په دې ویښته موجود دي نو دا پۀ دې باندې د زرګونو روپو اثاثه موجوده ده، آیا د شُکر مقام نۀ دے؟ ❀ څومره داسې خلق دي کوم چې پۀ ښپو باندې معذوره دي، ګرځیدے نشي، زمونږه ښپې شته، آیا دا د شُکر مقام نۀ دے---؟ بیا مونږه د الله پاک شُکر ولې نۀ ادا کوو---؟ شُکر ادا کول پکار دي، هر وخت شُکر ادا کول پکار دي، هر ساعت شُکر ادا کول پکار دي-

## افضل ترین شُکر

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه وئیل د الله پاک شُکر دے او دا د ټولو نه افضل

---

1...وسائلِ بخشش، صفحه:711 712 ملتقطاً-

2...بحر الکلام، فصل فی اثبات عذاب القبر، صفحه:219 220-

شُکر کرځولے شوے دے- که هر قِسمه خیر درته میلاؤ شي، د هغې دُعا ده: اَلْحَمْدُلِلّٰه- د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم ته وفرمائیل: ډالونه (یعنې د دښمن د ګزار نه د بچ کیدو د پاره استعمالیدونکې وسله) راواخلئ! صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم عرض وکړو: یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! آیا دښمن حمله کړې ده؟ اوئې فرمائیل: نه (دښمن حمله نه ده کړې) بلکې د دوزخ پهٔ مقابله کښې خپل ډالونه راواخلئ او سُبْحٰنَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَاللهُ اَكْبَرُ لولئ ځکه چې دا کلمات به د قیامت پهٔ ورځ ستاسو د مخکښې او وروستو نه ستاسو حفاظت کوي- [1]

پهٔ یو حدیثِ پاک کښې دي: اَلْحَمْدُلِلّٰه وئیل تَله د میزان ډکوي [2] یعنې د اَلْحَمْدُلِلّٰه وئیلو سره دومره ثواب میلاؤیږي چې د قیامت پهٔ ورځ باندې کله دا ثواب د عمل پهٔ تله کښې کیښودے شي نو تَله به ډکه شي- [3]

الله پاک دې مونږ ته پهٔ کثرت سره د شُکر او پهٔ اَلْحَمْدُلِلّٰه وئیلوسره ژبه د الله پاک پهٔ ذِکر باندې د لمدې ساتلو توفیق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

ذِکرو درود ہر گھڑی وردِ زباں رہے | میری فضول گوئی کی عادت نکال دو [4]

## قبر ته به خامخا کوزیدل وي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! قبر د اخرت پهٔ منزلونو کښې د ټولو نه وړومبے او د ټولو نه سخت منزل دے- د قبر کنده ډیره وحشت ناکه ده، چې خالي قبر کنستلے شوے وي، دننه پکښې څهٔ هم نهٔ وي، د هغې نه هم انسان ویریږي، که د خالي قبر پهٔ خوا کښې ځوک کښینولے شي نو هغهٔ به هم خولې خولې شي، چې هٔغه خالي کندې ته کتل دومره

1…مستدرک علی الصحیحین، کتاب:الدعا والتکبیر، جلد:2، صفحه:235، حدیث:2029-
2…مسلم، کتاب: الطهارة، باب، فضل الوضو، صفحه:106، حدیث:223 ملتقطاً-
3…فیض القدیر، جلد:4، صفحه:384-
4…وسائلِ بخشش، صفحه:305-

خطرناک دي نو سوچ وکړئ چې هغه قبر ته دننه کوزیدل به څومره ګران وي خو آه---!! مونږه دُنیا ته راغلو، اوس به د دې ځائے نه لازمي واپس هم ځو او قبر ته به هم کوزیږو- الله پاک پۀ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

ثُمَّ اَمَاتَهٗ فَاَقْبَرَهٗ ﴿۲۱﴾
(پارہ:30، سورۂ عبس:21)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بیا یې هغهٔ ته مرګ ورکړو، بیا یې هغهٔ پۀ قبر کښې کیښودو-

دا د الله پاک د قُدرت نخښه ده- هم هغهٔ رَبِّ قادِر او قَیُّوم ذات دے ❁ هغهٔ مونږه د اوبو د یو خاځکي نه پیدا کړو ❁ صحت مند ❁ روغ رَمتِ انسان یې رانه جوړ کړو ❁ اوس زمونږه پۀ مَتو کښې طاقت هم شته ❁ عقل هم شته ❁ شعور هم شته ❁ عهدې ❁ منصبونه ❁ او القابات هم شته خو ډیر زر به حضرت ملک الموت عَلَیْهِ السَّلَام تشریف راوړي، رُوح به د وجود نه ویستلے شي او پۀ مونږه مئین خلق به مونږه پۀ تیارۀ قبر کښې کیږدي او واپس به رانه لاړ شي-

دِلا غافِل نہ ہو یک دَم یہ دنیا چھوڑ جانا ہے
بغیچے چھوڑ کر خالی زمیں اندر سمانا ہے
تِرا نازُک بدن بھائی جو لیٹے سَیج پھولوں پر
یہ ہوگا ایک دن بے جاں اِسے کیڑوں نے کھانا ہے
تُو اپنی موت کو مت بھول کر سامان چلنے کا
زمیں کی خاک پر سونا ہے اِینٹوں کا سِرہانا ہے
نہ بَیلی ہو سکے بھائی نہ بیٹا باپ تے مائی
تُو کیوں پھرتا ہے سَودائی عمل نے کام آنا ہے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## مَړي ته خو درېږ ورځې پس لګ وګوره ---!!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ به خامخا مرۀ کيږو، قبر ته به خامخا کوزيږو خو آه---!! د قبر معامله اسانه نۀ ده- حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُاللهِعَلَيْه يو ځل خپل يو ملګري ته وفرمائيل: وروره! د مرګ ياد زما نه خوب تختولے، زۀ ټوله شپه ويخ ناست ووم او د قبر والا پۀ باره کښې مې سوچ کولو- اے وروره! که تۀ درېږ ورځې پس مړے پۀ قبر کښې ووينې نو پۀ دُنيا کښې تر ډيرې مودې پورې د هغۀ سره د اوسيدو باوجود به تۀ د هغۀ نه ويريږې، که تۀ د هغۀ د کور يعني د هغۀ د قبر دننه حصه ووينې پۀ کومه کښې چې چينجي ګرځي او بدن يې خوري، د هغۀ د بدن نه وينې زغوې جاري دي، سخت بد بوئي ترينه راځي، د هغۀ کفن وروست شوے دے- هئ! هئ! غور خو وکړه! دغۀ مړے چې کله ژوندے وو نو ښکلے وو، ښه خوشبوئي به يې استعمالوله، ښې جامې به يې اغوستلې---!! راوي وائي: د دومره وئيلو نه پس حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ژړغونے شو، هغوئي يوه چغه ووهله او بے هوشه شو- (1)

اندھیری قبر کا دل سے نہیں نکلتا ڈر | کروں گا کیا جو تو ناراض ہو گیا یا ربّ (2)

## د قبرونو دننه حالات

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا هديرې کومې چې مونږ ته خاموشه پۀ نظر راځي، شپه ورځ دلته يوه وحشت ناکه شان خاموشي خوره وي، دا دننه دومره خاموشه نۀ دي، پۀ دې قبرونو کښې دننه پوره جهان اباد دے، بعضې قبر دننه د جنَّت باغ دے، بعضې د دوزخ کنده ده، پۀ بعضې قبرونو کښې د جنَّتي ګلونه خوځيږي ، پۀ بعضو کښې د دوزخ د وور لمبه وي، بعضې خوش قِسمته پۀ قبر کښې پۀ جنَّتي ځانګوګانو کښې ځانګي، بعضې د وور پۀ زنځيرونو باندې تړلے شوي دي- آه! پۀ دې خاموشه ښار کښې دننه يو شور او

1...احياء العلوم، کتاب ذکر الموت و ما بعده، بيان حال القبر و اقاويلهم عند القبور، جلد:4، صفحه:588-

2...وسائلِ بخشش، صفحه:78-

غوغا ده ، چرته خوشحالی دي، چرته غوغا او انګولا ده- آؤ! زمونږه د غوږونو قصور دے چې دا هر څۀ مونږه نشو اوريدے- حضرت اَبُو اُمامه باهَلي رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ صحابئ رسول دے، هغوئي فرمائي: يو ځل خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دوو قبرونو خوا له تشريف يوړلو او اوئې فرمائيل: آيا دلته فلانكے فلانكے دفن دي؟ صحابۀ كرامو رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم عرض وكړو: آؤ جي! (يا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم!)- اوئې فرمائيل: بے شكه اوس فلانكے كښينولے شولے دےاو هغۀ وهلے كيږي- پۀ هُغه ذات مې دې قَسم وي د كوم پۀ قبضه كښې چې زما ځان دے! بے شكه هغۀ له داسې ګزار وركړے شوے دے چې د هغۀ هر يو جوړ مات شوے دے، بے شكه د هغۀ قبر د وور نه ډک شوے دے او هغۀ يوه تيزه چغه وهلې ده چې هغه د پيريانو او انسانانو نه علاوه هر مخلوق اوريدلې ده- (1)

| | |
|---|---|
| قبر میں آہ! گُھپ اندھیرا ہے | روشنی ہو پئے رضا یاربّ! |
| سانپ لِپٹیں نہ میرے لاشے سے | قبر میں کچھ نہ دے سزا یاربّ! |
| نورِ احمد سے قبر روشن ہو | وَحشَتِ قبر سے بچا یاربّ! (2) |

## د كفن كش (غَل) عبرتناک بيان

روايت دے، يو ځل يو كَس د حضرت حَسَن بصري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه پۀ خدمت كښې حاضر شو، دې كَس به كفنونه پټول، هغۀ د امام حَسَن بصري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه پۀ خدمت كښې حاضر شو او توبه يې كړه او د تيرو ګناهونو د پريښودو يې پخه اراده وكړه- امام حَسَن بصري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه ترينه پوښتنه وكړه: د كفن پټولو پۀ وخت كه تا څۀ عبرتناک څيز ليدلے وي نو اوئې وايۀ--!! پۀ دې باندې د كفن كش د دريو قبرونو دننه حالات بيان كړل او اوئې وئيل:

1...اہوالُ القبور، البآب السادس، فصل انواع عذاب القبر، صفحه:94-

2...وسائلِ بخشش، صفحه:80-

## (1): د وور زنځيرونه

يو ځل ما يو قبر وکنستو نو پۀ هغې کښې زړۀ بوږنيدونکے منظر وو- څۀ ګورم چې د مړي مخ تور دے، پۀ ښپو او لاسونو کښې يـې د وور زنځيرونه دي او د هغۀ د خُلې نه وينه او نوونه روان دي- د هغۀ نه دومره بد بوئي راتلله چې د برداشت کولو نۀ وه- دا خطرناک منظر چې مې وليدلو نو زۀ تښتيدم چې مړي ووئيل: ولې تښتې؟ آه---!! او واورۀ چې ما ته د کومې ګناه سزا راکړے کيږي! ما چې د مړي اواز واوريدو نو حيران شوم او همت مې وکړو او قبر ته ورنزدې شوم او چې کله مې دننه وکتل نو د عذاب فرښتو د هغۀ پۀ غاړه کښې د وور زنځيرونه اچولي وو او ناستي وې- ما د مړي نه پوښتنه وکړه: تۀ څوک يـې؟ هغۀ جواب راکړو: زۀ مسلمان د مسلمان زوي يم خو افسوس چې زۀ شرابي او زنا کار ووم او د دې خرابې مستئ پۀ حالت کښې مړ شوم او اوس پۀ عذاب کښې راګير يم-

## (2): تور مړے

پۀ خپل بيان جاري ساتلو هٔغه کفن کش نور ووئيل: پۀ يوه بله موقع باندې چې کله ما د کفن پټولو پۀ غرض باندې قبر وکنستو نو يو تور مړي ژبه راويستلې وه‌دريدو! د هغۀ نه ګير چاپيره د وور لمبې وې، فرښتو د هغۀ غاړې ته زنځيرونه اچولي وو او ولاړې وې- هٔغه ګس چې زۀ وليدلم نو اوئې وئيل: وروره! زۀ ډير تږے يم پۀ ما باندې لږې اوبه وڅښه- فرښتو ما ته ووئيل: **خبردار! دې بے نـمانځه له اوبه مۀ ورکوه-** ما همت وکړو او د هٔغه مړي نه مې پوښتنه وکړه: تۀ څوک يـې او ستا جُرم څۀ دے؟ هغۀ جواب راکړو: زۀ مسلمان ووم خو افسوس چې ما د الله پاک ډيرې نافرمانئ کړې دي او زما پۀ شان ډير ګنهګاران پۀ عذاب کښې راګير دي-

## (3): پۀ قَبر کښې باغ

کفن کش نور ووئيل: دغه شان يو ځل ما يو قبر وکنستو نو قبر مې دننه ډير فراخه

وليدلو او څۀ ګورم چې يو ډير ښکلے باغ دے پۀ کوم کښې چې نهرونه بهيږي او يو ښکلے ښائسته زلمے پۀ هغه باغ کښې مزې کوي- ما د هغه زلمي نه پوښتنه وکړه: تا ته د کوم عمل پۀ وجه دا انعام ميلاؤ شوے دے؟ هغۀ ووئيل: ما د يو عالِم نه اوريدلي وو چې څوک د **10 محرم شريف** پۀ ورځ 6 رکعته نفل وکړي الله پاک هغۀ بخښي- نو به ما هر کال د **10 محرم شريف** پۀ ورځ 6 رکعتونه کول- (1)

## 5 خوفناک قبرونه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** هم داسې يوه عبرتناکه واقعه د خليفه عبد المَلِک بن مروان سره هم شوې وه، داسې وشول چې يو ځل يو ګس د خليفه عبد المَلِک بن مروان خوا له راغلو، هغۀ هم کفن کش وو او غوښتل يـې چې د کفنونو د غلا نه توبه وکړي- هغۀ پۀ خپلو سترګو ليدلي د قبرونو خطرناک حالات بيان کړل، اوئې وئيل: اے د وخت خليفه---!! نن شپه ما د **5 قبرونو** نه عبرت حاصل کړو او توبه کولو ته تيار شوم:

✿ **د وړومبي قبر حال:** د کفن پټولو پۀ غرض چې ما کله وړومبے قبر وکنستو نو د مړي مخ د قبلې نه اوړيدلے وو- زۀ ويريدم او چې څنګه راواپس کيدم نو يو غيبي اواز مې واوريدو- چا وئيل: د دې مړي نه د عذاب د وجهې پوښتنه خو وکړه- زۀ ويريدم او وه مې وئيل: پۀ ما کښې همت نشته، تۀ راته ووايۀ! اواز وشو: **دا ګس شرابي او زنا کار وو-**

✿ **د دويم قبر حال:** کفن کش نور ووئيل: دويم قبر چې مې وکنستو نو يو زړۀ بوږنيدونکے منظر زما د سترګو مخې ته وو- څۀ ګورم چې د مړي مخ د خنزير پۀ شان شوے دے او پۀ طوق او زنځير کښې تړلے شوے دے- غيبي اواز وشو: **دۀ به د دروغو قَسَمونه خوړل او حرام رزق به يـې ګټلو-**

✿ **د دريم قبر حال:** دريم قبر چې مې وکنستو نو پۀ هغې کښې هم خطرناک منظر وو-

---

1...کفن چور کے انکشافات، صفحہ: 2 4 ۔

مړي د شا طرف ته ژبه راويستې وه او د هغهٔ په وجود د وور ميخونه وهلے شوي وو- غيبي اواز کوونکے ووئيل: دهٔ به غيبت کولو، چغلي به يې کوله او خلق به يې پهٔ خپل مينځ کښې جنګول-

❁ **د خلورم قبر حال:** خلورم قبر چې مې وکنستو نو زما د سترګو د وړاندې يو ډير عجيبه منظر وو! مړے پهٔ وور کښې اوړيدو راوړيدو او فرښتو هغهٔ د وور پهٔ څَټَکونو باندې وهلو- پهٔ ما باندې يو دم ويره راغله او زهٔ راتښتيدم چې يو غيبي اواز مې د غوګو شو چې **دې بد نصيبه به پهٔ نمونځ او د رمضان شريف پهٔ روژو کښې سستي کوله-**

❁ **د پينځم قبر حال:** پينځم قبر مې چې کله وکنستو نو د هغې حالت د مخکښينو څلورو واړو قبرونو نه بالکل اُلټا وو- قبر د نظر تر حده پورې فراخه وو، دننه پهٔ يو تخت باندې ښکلے زلمے ناست وو- غيبي اواز ووئيل: **دهٔ پهٔ ځوانۍ کښې توبه کړې وه او د نمونځونو او روژې ډير پابند وو-** (1)

## چې څهٔ کَرې هغه به رِيبې

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** دا د قبرونو دننه حالات دي، غور وکړئ چې دا خاموشه ښکاريدونکے د خاورو ډيرې دننه څنګه څنګه رازونه لري خو افسوس چې زمونږ سره د دې هډو فِکر نهٔ وي- ياد ساتئ چې که زمونږ سره فِکر وي او که نهٔ وي، که مونږه تياري کوو او که نهٔ يې کوو، مونږه دې دُنيا ته راغلو، اوس به مونږ مړه کيږو، قبر ته به کوزيږو او چې څهٔ مو کړي وي د هغې بدله به راته ميلاوُيږي- مونږ که هر څومره کوشش وکړو او که هر څومره وتښتو، مونږه د خپلو اعمالو نه نجات نشو حاصلولے، مونږه چې څهٔ کَرلي وي هغه به خامخا رِيبو- الله پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ رَهِيْنَةٌۙ (۳۸)

(پارہ: 29، سورۂ مدثر: 38)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: هر نفس پهٔ خپلو ګټلو اعمالو کښې ګانهـ اېښودے شوے دے-

1...کفن چور کے انکشافات، صفحہ: 5 ۔8

معلومه شوه چې هر کَس د خپلو اعمالو په بدله کښې ګانه دے، څوک چې هم دې دُنیا ته راغلو، هغۀ به قبر ته کوزیږي او د خپلو اعمالو بدله به بیاموي۔

| | |
|---|---|
| بونے والے جو بوئیں وہ کاٹیں | یہ ہوا تو میں مَرُ مِٹا یاربّ! |
| آہ جو بو چکا ہوں وقت دِرَوْ | ہو گا حسرت کا سامنا یاربّ! |
| مجھے دونوں جہاں کے غم سے بچا | شاد رکھ شاد دائما یاربّ! (1) |

## قبر ورومبے منزل دے

**منقول دي:** قبر روزانه 7 کرته اواز کوي او دا اعلان کوي: ❀ اے کمزوري انسانه! ما ته د رارسیدو نه مخکښې، د دې دُنیا په ژوند کښې په خپل ځان باندې رحم وکړه! بے شکه چې کله تۀ ما ته رارسي نو که تۀ د خپل رَبّ فرمانبردار وې نو زۀ به په تا باندې رحم وکړم، تۀ به په ما کښې خوشحالي وینې او که تا په خپل ځان باندې رحم ونکړو نو زۀ به هم په تا باندې رحم نۀ کووم ❀ (اے کمزوري انسانه!) ❀ زۀ د چینجو کور یم او د دې سره تر ډیرې مودې پورې پښیمانتیا هم ده ❀ زۀ د ویرې او د تنهایۍ کور یم او د دې سره شِدَّت او سختي هم ده ❀ زۀ د تندې کور یم او د دې سره ډیره تیارۀ هم ده ❀ زۀ د تنګۍ کور یم او د دې سره خطرناک لړمانان هم دي۔ ❀ اے اِبنِ آدمه! خبردار! تا دې د دُنیا ژوند په دوکه کښې نۀ اخته کوي! بے شکه تۀ به ما ته راځې ❀ زۀ د اخرت په منزلونو کښې ورومبے منزل یم، که تا زما نه نجات حاصل کړو نو د هرې خطرناکې مرحلې نه به نجات حاصل کړې۔ اے اِبنِ آدمه! زۀ د غَضب ځائے یم ❀ زۀ د زلمي په ځوانۍ باندې ❀ د وړوکي په وړوکوالۍ باندې او د بوډا په بوډا توب باندې رحم نۀ کووم۔ آؤ! آؤ! زۀ په هغه چا باندې رحم نۀ کووم څوک چې پخپله په خپل ځان باندې رحم نۀ کوي۔ (2)

| | |
|---|---|
| قبر روزانہ یہ کرتی ہے پکار | مجھ میں ہیں کیڑے مکوڑے بیشمار |

1... ذوقِ نعت، صفحه:86 ملتقطًا۔

2... بُستان الواعظین، عظة للنبي، صفحه:154۔

یاد رکھ میں ہوں اندھیری کوٹھڑی | تجھ کو ہوگی مجھ میں سُن وَحشت بڑی
میرے اندر تُو اکیلا آئے گا | ہاں مگر اعمال لیتا آئے گا
گُھپ اندھیری قبر میں جب جائے گا | بے عمل! بے انتہا گھبرائے گا
جب ترے ساتھی تجھے چھوڑ آئیں گے | قبر میں کیڑے تجھے کھا جائیں گے
قبر میں تیرا کفن پھٹ جائے گا | یاد رکھ نازک بدن پھٹ جائے گا
تیرا اک اک بال تک جھڑ جائے گا | خوبصورت جسم سب سڑ جائے گا(1)

## خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د برزَخ حالات ولیدل---!!

د مسلمانانو څلورم خلیفه حضرت عليُّ المُرتضیٰ شیرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ بیان کوي چې حضور نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یوه ورځ د سحر د نـمونځ جَمعه ورکړه او زمونږه طرف ته متوجه شو او ارشاد یـې وفرمائیلو: د شپې زما خوا ته دوه فرښتے حاضرې شوې او زۀ یـې د اسمان طرف ته بوتلم ❀ ما یوه فرښته ولیدله د کومې پۀ لاس کښې چې غټې کاڼے وو او د هغۀ مخې ته یو کَس پروت وو فرښتے پۀ کاڼي باندې د هغۀ سر وهلو پۀ کومې به چې د هغۀ دماغ یو طرف ته بهیدل او کاڼے به بَل طرف ته غورځیدلو، ما پوښتنه وکړه: دا څوک دے؟ فرښتو ووئیل: وړاندې تشریف یوسئ! ❀ وړاندې مې هم یوه فرښته ولیدله د هغې مخې ته هم انسان پروت ووهغې به د دغه انسان کله ښی ژامه او کله ګڅه ژامه په اوسپنې سره شلوله او تر غوږونو پورې به یـې بوتلله، ما پوښتنه وکړه: دا څوک دے؟ فرښتے ووئیل: وړاندې تشریف یوسئ! ❀ زۀ چې وړاندې لاړم نو د وینې یو نهر مې ولیدلو کوم چې د کټوۍ پۀ شان خوټکیدلو، پۀ دې کښې بربنډ خلق وو او د نهر پۀ غاړو باندې فرښتو پۀ لاسونو کښې لوټې پۀ لاس موجودې وې چا چې به هم د نهر نه بهر کتل، هغۀ به یـې پۀ لوټه باندې ویشتو پۀ کومې باندې چې به هغۀ واپس نهر ته پریوتو تر دې پورې چې د هغې بیخ ته به رسیدلو، ما پوښتنه وکړه: دا څوک دي؟ فرښتو ووئیل: وړاندې لاړ شئ! ❀ زۀ چې

1...وسائلِ بخشش، صفحه:711 712 ملتقطًا۔

وړاندې لاړم نو يو کور مې وليدو د کوم ښکته حصه چې د بره والا نه ډيره تنګه وه، په دې کښې هم بربنډ خلق وو د کومو لاندې چې وور لمبې وهلې او دومره بد بوئي ترينه راتلله چې ما د هغې نه د بچ کيدو د پاره خپله پوزه ونيوله او پوښتنه مې وکړه: دا څوک دي؟ فرښتو ووئيل: وړاندې تشريف يوسئ! ❁ وړاندې چې لاړم نو وه مې کتل چې په يو توره غونډۍ باندې څۀ ليوني خلق دي او د هغوئي په شاتنۍ شرمګاه کښې وور پوک وهلے شي کوم چې د هغوئي په خُلو، د پوزې په سورو، په سترګو او په غوږونو راوتلو، ما پوښتنه وکړه: دا څوک دي؟ ما ته ووئيلے شو: وړاندې لاړ شئ! ❁ زۀ چې وړاندې لاړم نو ما د وور نه ډکه په زمکه کښې دننه يوه قيد خانه وليدله په کومې باندې چې فرښته مقرر وه، د دې وور نه چې به څوک هم وتلو نو فرښته به ورپسې کيدله تر دې پورې چې واپس به يې پکښې غورځولو-

په اخر کښې د دې ټولو وحشت ناکو منظرونو په باره کښې ووئيلے شو چې هغه **(وړومبے)** ګس د کوم سر چې چقولے کيدو چې دماغ به يې يو اړخ ته او کاڼے به بل اړخ ته غورځيدلو، دا هغه ګس دے کوم چې به د ماسخوتن نمونځ نۀ کولو او نور نمونځونه به يې هم په وخت تيريدلو کول، دا به په دوزخ کښې د غورځولو پورې هم داسې وهلے کيږي، او هغه **(دويم ګس)** د چا ژامې چې په اوسپنې باندې شلولے کيدلې دا د هغه خلقو عذاب دے، کومو چې به د مسلمانانو په مينځ کښې فساد خوررولو او چغلي به يې کوله، دوئي ته به هم دا عذاب مسلسل ورکړے کيږي تر دې پورې چې دوزخ ته وغورځولے شي، او هغه **(دريم ګس)** کوم چې د نهر نه راوتلو په کوشش کښې په ګټو ويشتلے شو هغۀ سود خور دے، هغۀ ته به هم دوزخ ته د تللو پورې دا عذاب ورکړے کيږي، او هغه **(خلورم منظر چرته چې تاسو بربنډ خلق وليدل هغه)** بربنډ خلق بدکاران وو او کومه بد بوئي چې راتلله هغۀ د هغوئي د شرمګاهونو وه، هغوئي ته به هم دوزخ ته د تللو پورې دا عذاب ورکړے کيږي او **(په پينځم منظر کښې)** چې کوم ليوني خلق تاسو وليدل،

هغوئي د قومِ لُوط پهٔ شان ګنده کار [بچپله] کوونکي او [پهٔ نورو باندې] کوونکي وو، هغوئي هم دوزخ ته د غورځيدو پورې پهٔ دې عذاب کښې راګير دي او (پهٔ شپږم ځائے کښې هٰغه) د وور نه ډکه پهٔ زمکه کښې دننه قيد خانه دوزخ وو۔ (1)

اَللّٰہُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اندازه ولګوئ چې دا د برزخ حالات دي، دا د هٰغه خلقو حالات دي کوم چې نن پهٔ قبرونو کښې دي، آه! د بهر نه خاموشه پهٔ نظر راتلونکو دې قبرونو ته وګورئ چې څومره وحشت ناک منظرونه پکښې پټ دي۔

| | |
|---|---|
| ياخدا ميری مغفرت فرما | باغِ فِردوس مَرحَمَت فرما |
| تُو گناہوں کو کر مُعاف اللہ! | ميری مقبول معذِرت فرما |
| مصطفٰے کا وسيلہ توبہ پر | تُو عنايت مُداوَمَت فرما (2) |

## آقا كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډير وژړل---!!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! لا اوس مونږه ژوندي يو، نن زمونږ سره وخت شته، مونږه پهٔ توبه کولو تير ګناهونه بخښلے شو، پهٔ نيک کار کولو د قبر د روښانه کولو انتظام کولے شو، که چرې دا ساه ګانې ودريدلې، رُوح د وجود نه ووتو نو د پښيمانتيا نه علاوه به هيڅ هم لاسو ته رانشي۔

د اِبنِ ماجه شريف روايت دے، حضرت بَراء بن عازِب رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: يوه ورځ مونږه د الله پاک د رسول، رسولِ مقبول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره پهٔ يوه جنازه کښې شريک وو۔ د دفن کولو پهٔ وخت نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قبر پهٔ غاړه باندې تشريف فرما شو او ډير يې وژړل، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دومره وژړل چې د قبر خاوره لمده شوه۔ بيا يې وفرمائيل: لِمِثْلِ هٰذَا فَاَعِدُّوْا يعني دې د پاره تياري وکړئ---!! (3)

---

1...تاريخِ دِمشق، جلد:19، صفحه:451۔

2...وسائلِ بخشش، صفحه:75 ملتقطاً۔

3...ابن ماجه، كتاب الزہد، باب: الحزن و البكاء، صفحه:681، حديث:4195۔

نیکیاں کر جلد تُو بدیوں سے بھاگ | قبر میں ورنہ بھڑک اُٹھے گی آگ

## دا د اِصلاح کولو وخت دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا اصلي حقیقت دے، زمونږ پۀ ذهنونو کښې به ډیرې منصوبې وي، زمونږ پۀ زړونو کښې به ډیر خوبونه وي، مونږه روزانه د خپل مستقبل د پاره ډیر سوچونه کوو، ډیرې نوې نوې منصوبې جوړوو خو اصلي حقیقت هم دا دے--!! چې کله مَلَک الموت (یعني د مرګ فرښته) حضرت عزرائیل عَلَيْهِ السَّلَام تشریف راوړي، بیا به د هغې نه پس هیڅ یوه منصوبه، هیڅ یو خوب پاتې نشي، بیا به صِرف هم یو څیز باقي پاتې وي او هغه زمونږ اعمال دي- لهذامونږ چې پۀ دې دُنیا کښې مخکښې لاړشو نو څۀ به کوو، ښه کور، ښه ګاډے، ښه کاروبار، دا هر څۀ زمونږ د مستقبل سوچ دے **خو زمونږه عمل زمونږه د نن ذمه واري (*Responsibility*) ده-** مونږه به خپل د دُنیا مستقبل ته رسیږو که نۀ به رسیږو، د دې نه څوک هم خبر نۀ دي، خو مونږ به قبر ته ضرور کوزیږو، د خپلو اعمالو سره به کوزیږو، د دې نه هر مسلمان خبر دے- ځکه ضروري دي چې مونږه نن او هم د اوس نه د خپلو اعمالو فِکر شروع کړو-

یو ځل حضرت عثمان بن ابو عاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د یوې جنازې سره هدیرې ته تشریف یوړلو، د هغوئي سره یو ځوان هم وو، هٰغه ځوان پۀ څۀ غفلت کښې وو- نو هٰغه قبر کوم چې د مړي د پاره تیار کړے شوے وو، حضرت عثمان بن ابو عاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د هٰغه قبر طرف ته اشاره وکړه او هٰغه ځوان ته یــې وفرمائیل: خپل کور ته وګورۀ! ځوان قبر ته وکتل- حضرت عثمان بن ابو عاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پوښتنه وکړه: څۀ درته ښکاري؟ اوئې وئیل: یو تنګ او تیارۀ کور دے، پۀ کوم کښې چې نۀ خوراک شته، نۀ اوبه، نۀ کور والا خو زما د دُنیا پۀ دې کور کښې خوراک هم شته، اوبه هم شته، کور والا هم دي- حضرت عثمان بن ابو عاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمائیل: تا رښتیا ووئیل: پۀ خُدائے مې دې قَسم وي! که تۀ نن واپس خپل دُنیاوي کور ته وهم ګرځیدلې،خو بیا به هم تا ته دې تنګ او تیارۀ کور ته

راتلل وي (ځکه بهتره دا ده چې د دې کور د پاره د اوس نه تياري وکړې!)- [1]

## پۀ قبر کښې پۀ کار راتلونکي اعمال

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! الله پاک دې مونږ ته د نيکو اعمالو توفيق راعطا کړي، د بدو اعمالو نه دې بچ کيدل رانصيب کړي، د خپل قبر فِکر به هم پخپله کوو، ځکه ښه دي چې مونږه نن او هم د اوس نه د قبر د ښه کولو، د قبر د روښانه کولو تياري شروع کړو، يو څو کارونه کوم چې پۀ قبر کښې پۀ کار راتلونکي دي، عرض کووم يې، واورئ!

## (1): عقيده صحيح ساتئ!

**وړومبے کار:** دا چې خپله عقيده صحيح ساتئ او هميشه پۀ دې باندې پۀ مضبوطتيا سره قائم اوسئ! ځکه چې پۀ قبر کښې اصلي امتحان هم د عقيدې دے- د نـمونځ، روژې، حج، زکوٰة وغيره حساب کتاب به هم کيږي خو د قيامت په ورځ، البته د قبر په امتحان کښې به درې پوښتنې کيږي: (1): ستا رَبّ څوک دے؟ (2): ستا دِين څۀ دے؟ (3): تا به د دې هستۍ (يعني د اخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) پۀ باره کښې څۀ وئيل؟

دا درې واړه پوښتنې د عقيدې دي- ځکه هميشه خپله عقيده مضبوطه ساتئ! د الله پاک پۀ باره کښې، د اخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ باره کښې، د الله پاک د کتابونو، د هغۀ د رسولانو، د فرښتو پۀ باره کښې، د صحابۀ کرامو، اهلِ بيتِ اطهار رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم پۀ باره کښې هميشه هُغه عقيده ساتئ! کومه چې د پيړو نه د عاشقانِ رسول علمائے کرامو عقيدې رارواني دي-

که مونږه صحيح اِسلامي عقيدې اختيار کړو او پۀ هغې باندې هميشه قائم پاتې شو نو اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡكَرِيۡم! د قبر د عذاب نه به بچ شو-

---

1... الزہد لاحمد بن حنبل، اخبار عبد الله بن عمر، صفحه:255، حديث:1137 بتغير-

## د صِدِّیق او د عمر (رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہما) وسیله یـې پهٔ کار راغله

د خپل وخت مُجَدِّد او ډېر لوئي عالِم، مُفَسِّر، مُحَدِّث حضرت اِمام جلالُ الدِّین سیوطي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ لیکلي دي: د قرآنِ کریم مفسر ابو قاسم بن هِبَةُ الله رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ فرمائي: زمونږه یو هم مکتب (کلاس فیلو) وفات شو نو استاذ صاحب هغهٔ پهٔ خوب کښې ولیدلو او پوښتنه یـې ترینه وکړه: الله پاک ستا سره څهٔ معامله وفرمائیله؟ هغهٔ ووئیل: زهٔ یـې وبخښلم - استاذ صاحب ترینه پوښتنه وکړه: نکیرین (یعنې پهٔ قبر کښې د پوښتنو کوونکو فرښتو) سره دې څنګه معامله وشوه؟ هغهٔ ووئیل: استاذ صاحبه! چې نکیرینو کله زهٔ کښینولم او پوښتنه یـې وکړه چې ستا رَبّ څوک دے او ستا نبي څوک دے؟ نو الله پاک زما پهٔ زړهٔ کښې واچول چې زهٔ دوئي ته ووایم: د حضرت ابو بکر او د حضرت عُمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہما پهٔ وسیله باندې ما پرېږدئ! بس یوې فرښتے بلې ته ووئیل: دهٔ مونږ له ډېر لوئي قَسم راکړے دے، لهٰذادا پرېږدئ- نو هغه دواړو زهٔ پرېښودم او لاړلې- (1)

کیوں نہ ہو رُتبہ بڑا اَصحاب و اہلِ بیت کا | ہے خدائے مصطفٰی، اَصحاب و اہلِ بیت کا
آل و اَصحابِ نبی سب بادشہ ہیں بادشاہ | میں فقط ادنٰی گدا اَصحاب و اہلِ بیت کا
فَضْلِ ربّ سے دو جہاں میں کامیابی پائے گا | دل سے جو شَیدا ہوا اَصحاب و اہلِ بیت کا (2)

*–*–*–*

| | | | |
|---|---|---|---|
| هر صحابِي نبي! | جَنَّتي جَنَّتي | تولي صحابِياني هُم! | جَنَّتي جَنَّتي |
| څلور یاران د نبي! | جَنَّتي جَنَّتي | حضرتِ صدیق هُم | جَنَّتي جَنَّتي |
| او عُمر فاروق هُم | جَنَّتي جَنَّتي | عُثمانِ غني | جَنَّتي جَنَّتي |
| فاطِمه او علي | جَنَّتي جَنَّتي | دي حسن حُسین هُم | جَنَّتي جَنَّتي |
| والدین د نبي | جَنَّتي جَنَّتي | هره بي بي د نبي | جَنَّتي جَنَّتي |
| او ابُو سُفیان هُم | جَنَّتي جَنَّتي | دے مُعاوِیه هُم | جَنَّتي جَنَّتي (3) |

1...المنتظم لابن جوزی، جلد:15، صفحه:138، رقم:3092۔

2...وسائلِ فردوس، صفحه:35 ملتقطاً۔

3...وسائلِ فردوس، صفحه:53۔

## پۀ قبر کښې پۀ کار راتلونکي يو څو نور اعمال

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! ❀ داسې د قرآنِ پاک د تلاوت عادت جوړ کړئ! خاص طور روزانه د شپې سورۀ مُلک شريف لازمي لولئ! پۀ حديثِ پاک کښې دې مبارک سُورت ته د قبر د عذاب نه د بچ کوونکے سُورت فرمائيلے شوے دے، 30 آيتونه دي، د پينځوو نه تر لسو منټو پورې وخت کښې پۀ اسانۍ سره لوستلے کيږي، څوک چې حافِظان دي، هغوئي خو يې نور هم پۀ اسانۍ سره لوستلے شي، څکه روزانه د شپې کم از کم يو ځل سُورۀ مُلک شريف لازمي لولئ! ❀ پينځۀ واړه نـمونځونه د وخت د پابندۍ سره د جَمعې سره پۀ جومات کښې ادا کوئ ❀ که زکوٰة فرض وي نو ادا کوئ ❀ روژې نيسئ او ❀ د خلقو سره ښه سلوک کول هم د قبر د عذاب نه د بچ کيدو اسباب دي۔ د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ نه روايت دے چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: پۀ هغه ذات مې دې قَسم وي! د کوم پۀ قبضه کښې چې زما ځان دے! کله چې مړے پۀ قبر کښې کيښودے شي نو هغۀ د واپس تلونکو خلقو د پيزار اواز اوري، که مؤمِن وي نو نـمونځ د هغۀ د سر طرف ته، زکوٰة ښي، روژه کڼ او نورې ښيګړې، نيکۍ او د خلقو سره ښه سلوک د هغۀ د ښپو طرف ته راشي، د سر د طرف نه چې عذاب راځي نو نـمونځ وائي: دلته ستا د پاره هيڅ لاره نشته۔ د ښي اړخ نه چې راشي نو زکوٰة وائي: زما د طرف نه به هم تا ته لاره نۀ ميلاؤيږي۔ د کڼ اړخ نه چې راشي نو روژه وائي: زۀ به د دې ځائے نه تا داخليدو ته نۀ پريږدم۔ بيا عذاب د ښپو اړخ ته راشي نو ښيګړې، نيکۍ او د خلقو سره ښه سلوک وائي: د دې ځائے نه هم تا ته څۀ لاره ميلاؤيدونکې نۀ ده۔ (1)

هر عبادت سے بَرتَر عبادت نَماز | ساری دولت سے بڑھ کر ہے دولت نَماز
نارِ دوزخ سے بے شک بچائے گی یہ | رَبّ سے دلوائے گی تم کو جنّت نَماز

1…معجمِ اوسط، جلد:2، صفحه:92، حديث:2630۔

الله پاک دې مونږ ته د نیکو کولو، د ګناهونو نه د بچ کیدو، هر وخت د خپلو عقیدو د پخو ساتلو، د بدو عقیدو او د بدو اعمالو نه د بچ کیدو توفیق راعطا کړي- کاش چې د خوږ محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ وسیله باندې د قبر د عذاب نه نجات میلاؤ شي، کاش چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شفاعت مو نصیب شي او بغیر د حساب نه جنَّت ته پهٔ تللو کښې کامیاب شو- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

خطاؤں کو میری مٹا یااِلٰہی! | مجھے نیک خصلت بنا یااِلٰہی!
تجھے واسطہ سارے نبیوں کا مولیٰ | مری بخش دے ہر خطا یااِلٰہی! (1)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## پهٔ 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: نیک اَعمَال

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د مقصدي، د سُنَّتو نه ډک او د نیکو والا ژوند تیرولو د پاره د عاشقانِ رسول د دیني تنظیم دعوتِ اِسلامي د دِیني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ او پهٔ 12 دیني کارونو کښې هم ښه ډیره برخه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د دنیا او د اخرت بے شمیره خیرونه به درنصیب شي- پهٔ 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار دے: د نیک اعمال د رسالې نه روزانه د خپلو اعمالو جائزه اخستل-

❁ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: عقل مند هغهٔ دے چې خپله محاسبه او د مرګ نه وروستو ژوند د پاره عمل وکړي (2) ❁ د ځان د اصلاح او د شیطان نه د بچ کیدو بهترینه طریقه هم دا ده چې مونږ د خپلو عادتونو، خپل کردار او د خپلو اعمالو جائزه اخلو- پهٔ اوسني وخت کښې امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د خپل ځان د جائزې اخستو اسانه طریقه ښودلې ده: رساله نیک اعمال

---

1...وسائلِ بخشش، صفحه:100 ملتقطاً۔
2...ترمذی، ابواب صفة القیامة، صفحه:583، حدیث:2459۔

❁ د زيات عمر اسلامي ورونو د پاره پهٔ **نيک اعمال رساله** کښې 72 سوالونه او جوابونه ليکلے شوي دي ❁ د هر سوال نه لاندې 30 خانې دي ❁ هره ورځ د سوال لوستلو سره خپله جائزه اخستل دي او خانے ډکول دي ❁ د ښه اِسلامي ژوند تيرولو بهترينه نسخه ده ❁ د دې پهٔ ذريعه پته نه لګي چې د خومره خلقو اصلاح شوې ده۔

تاسو هم دا رساله واخلئ! د نيک اعمال مطابق هره ورځ خپله جائزه اخلئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ډيره فائده به در نصيب شي ❁ اخلاق به مو ښه کيږي ❁ کردار به مو ښه شي ❁ عادتونه به مو ښه شي ❁ پهٔ نيکو باندې به مو استقامت نصيب شي ❁ د ګناهونو نه به مو نفرت شي ❁ زړهٔ به مو روښانه شي ❁ د الله پاک محبت به مو نصيب شي ❁ عشق رسول به زيات شي ❁ روحانيت به ميلاو شي او ❁ د اخرت فکر به مو نصيب شي۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د نيک اعمال رسالې برکتونه

د نيو کراچۍ د يو اِسلامي ورور د بيان خلاصه ده چې زمونږ د علاقې د جومات امام صاحب څوک چې د دعوتِ اِسلامي سره تعلق لري، هغهٔ انفرادي کوشش وکړو او زما مشر ورور له يې نيک اعمال رساله پهٔ تحفه کښې ورکړه۔ هغهٔ کور ته راوړه او اوئې لوستله نو حيران شو چې پهٔ دومره مختصره رساله کښې يو مسلمان ته د اِسلامي ژوند تيرولو څومره بهترينه فارمولا ورکړے شوي ده! د نيک اعمال رسالې ميلاويدو پهٔ برکت اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د هغهٔ د نـمونځ جذبه نصيب شوه او د جَمعې سره د نـمونځ کولو د پاره جومات ته حاضر شو او اوس پينځه وخته نـمونځ ګزاره جوړ شوے دے، ګيره مبارکه يې هم پريښودې ده او پهٔ پابندۍ سره د نيک اعمال رسالې نه جائزه اخلي۔

نیک اعمال کے عامل پہ ہر دم ہر گھڑی | یاالٰہی! خوب برسا رحمتوں کی تو جھڑی

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## مَدَني قاعِده (Madani Qaida) موبائل ایپلي کیشن

خوېږو او محترمو اسلامي وروڼو! د قرآنِ کريم فيضان عام کولو د پاره د دعوتِ اسلامي I.T ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن هم جاري کړے دے، د کوم نوم چې مَدَني قاعِده (Madani Qaida) دے۔ په دې ايپلي کيشن کښې مکمله مَدَني قاعِده او د دې آډيو (Audio) شامله کړے شوې ده يعني په دې ايپلي کيشن کښې چې تاسو د مَدَني قاعِدې په کوم حرف يا کوم لفظ باندې کلک (Click) کوئ، په آډيو (Audio) کښې به د هغې تَلَفُّظ چليږي، داسې د دې ايپلي کيشن په مرستې سره په اسانۍ سره مَدَني قاعِده لوستل، د دې مشق (Practice) کول او صحيح مخارج او ضروري تجويد زده کيدے شي۔ دا ايپلي کيشن په خپل سمارټ فون کښې انسټال کړئ، يخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي په ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په مَدَني چينل باندې لائيو هفته واره مَدَني مذاکره کوي، د راتلونکې هفتې په ورځ به هم د ماسخوتن د نـمانځه نه پس به (تقريباً 9:15 بجې) په مَدَني چينل باندې اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، په کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي۔ ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول په دې مَدَني مذاکره کښې يخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❁ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د يوې دِيني رسالې د لوستلو اعلان کوي، په راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د مکې مکرمې جوماتونه رسالې اعلان کولے شي۔ دا رساله يخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره

استعمالوي هغوئي دي د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شیئر (**Share**) کړي! ❁ د امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د مدینے منورې د ورومبي سفر د قیصې اوریدو د پاره د مکتبة المدینه چاپ کړے شوې رساله **د امیرِ اهلِسُنَّت د مدینے منورې ورومبے سفر**، په **20 روپۍ** په بیعه واخلئ- د حج او د عمرې د مختصرې او د اسانې طریقې نه د ځان خبرولو د پاره ډیره ښکلې **رساله حج و عمره کا مختصر طریقه**، په **40 روپۍ** په بیعه حاصله کړئ، پخپله یې هم ولولئ! او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

**خورو او محترمو اسلامي وروڼو!** د بیان په اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو څو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به په جنّت کښې زما سره وي- (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د عمامې شریف سُنَّت او آداب

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دوه فرامین:** **(1)**: د عِمامې [یعنې پټکې] سره نـمونځ د لس زره نیکو برابر دے. (2) **(2)**: عِمامه تړئ! ستاسو د برداشت طاقت به زیاتیږي- (3)

---

1...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

2...مسندالفردوس، جلد:2، صفحه:406، حدیث:3805۔

3...مستدرک، کتاب اللباس، جلد:5، صفحه:272، حدیث:7488۔

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! ❁ عمامه پهٔ ولاړه تړئ او پرتوګ پهٔ ناسته اغوندئ ❁ چا چې د دې اُلټا عمل وکړو (يعنې عمامه يې پهٔ ناسته وتړله او پرتوګ يې پهٔ ولاړه واغوستو) هغهٔ به پهٔ داسې مرض کښې اخته شي چې دوائي به يې نهٔ وي (يعنې طبيبانو ته به يې د دوايئ علم نهٔ وي) ❁ د عمامې تړلو نه مخکښې ښه ښه نيتونه وکړئ که يو صحيح نيت هم نهٔ وو نو ثواب به نهٔ ميلاؤيږي ❁ مناسب دا دي چې د عمامې پيچ [يعنې وَل] د سر ښي طرف ته لاړ شي ❁ د الله پاك د اخري رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکې عمامې شمله به عام طور د [د مبارکې ملا] پهٔ شا وه، کله کله به ښي طرف ته، کله به د دواړو اوګو تر مينځه دوه شملې وې ❁ کيڼ [يعنې ګڅ] طرف ته شمله زوړندول خِلافِ سُنَّت دي ❁ د عمامې د شملې مقدار کم نه کم خلور ګوتې او د زياتو نه زيات [د ملا د نيمې پورې تقريباً] يو لاس (د لاس د مينځنئ ګوتې د سر نه واخله تر څنګل پورې ناپ ته يو لاس وائي)، ❁ عمامه مخ پهٔ قبله پهٔ ولاړه ولاړه تړئ ❁ پهٔ مرأت شريف کښې دي: عمامه شريف پهٔ ولاړه ولاړه تړل سُنَّت دي، پهٔ جومات کښې يې تړئ يا چرته بل ځائے او ❁ پهٔ عمامه کښې سُنَّت دا دي چې د دوه نيم ګزه نه کمه نهٔ وي، او نهٔ د شپږو ګزو نه زياته وي او د دې بناوټ [يعنې شکل] ګنبد نما [يعنې د ګنبد پهٔ شان] وي. (1)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

قرض ہو گا ادا آکے مانگو دعا | پاؤ گے برکتیں قافلے میں چلو
قَرض کا بار ہو، بے کسی یار ہو | چاہو گر راحتیں قافلے میں چلو

1...550 سنتیں اور آداب، صفحه:54 56 ملتقطاً۔

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعنې د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِیِّ الْاُمِّیِّ

الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَسَلِّمْ

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيّدُنا انَس رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو د کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵ ملخصًا

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِىْ عِلْمِ اللّٰهِ

صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اكبر رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُم حيران شول چې دا څوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

---

1...القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

3...القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَ تَرْضٰی لَہٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّ اَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکۍ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ عَنْہُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکۍ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَی اللہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللہُ الْحَلِیْمُ الْکَرِیْمُ، سُبْحٰنَ اللہِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1 ...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

2 ...مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

3 ...تاریخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵